## د دندې پلټونکو او رضاکارانو د شالید کتنو پېژندګلوی

که تاسو په انګلستان کې د رضاکارۍ یا ګومارنې فرصتونو غوښتنه کوئ، د شالید کتلو لپاره به ستاسو رضایت وغوښتل شي. دا کتنه مو ممکن ووېروي او جرات مو ټیټ کړي، په ځانګړي ډول که مو انرژي، پر ځان باور یا وخت کم وي.

د شالید کتنې لومړی ځل سخت وي. هیله لرو چې دغه معلومات پاڼه مرسته درسره وکړي چې په دې برخه کې پر ستونزو برلاسي شئ او له هغو فرصتونو ګټه واخلئ چې درته مهم دي.

### د شالید کتنې څه شی دي؟

د شالید کتل هغه بېلابېلې لارې ګوري چې خلک د کارکوونکي یا رضاکار په ګومارنه کې پکې دخیل وي او هڅه کوي له هغو خلکو ستاسو په اړه ډېر معلومات ترلاسه کړي چې تاسو پېژني. په دې کې ښایي لاندې فعالیتونه شامل شي:

- ستاسو د هویت تایید
- ستاسو اړوند تصدیق پاڼې، زده کړې او وړتیاوې کتل
- له هغو خلکو چې تاسو پېژني ستاسو د شخصیت یا کار په اړه پوښتنې کول (دې ته مرجع وايي)
- د جنايي سوابقو کتل
- ستاسو له ډاکټر څخه ستاسو د روغتیا په اړه پوښتنې کول

په انګلستان کې د شالید کتلو پر پروسه پوهېدل ممکن سخت وي، په ځانګړي ډول دا چې د دغې پروسې اړتیاوې د هرې دندې په اړه توپیر کوي، ان که په یوه سازمان کې هم وي.

### سازمانونه او کاروبارونه ولې شالید چک کوي؟

- د شالید کتلو له لارې یو سازمان هڅه کوي داسې معلومات ترلاسه کړي چې له لارې يې تاسو ته د دندې درکولو په برخه کې ډاډه شي. دوی غواړي ډاډ ترلاسه کړي چې له موجودو سرچینو، روزنې او ملاتړ سره تاسو کولی شئ دا دنده داسې پر مخ یوسئ چې هم ستاسو او هم نورو لپاره خوندي وي.
- د شالید ځینې کتنې د دې لپاره کېږي چې یو سازمان قانون مکلف کړی چې داسې کړنې وکړي چې هغه کسان وپېژني چې ښايي له ماشومانو او زیان منونکو لویانو ناوړه ګټه واخلي یا امنیت ته ګواښ جوړ کړي.
- ځینې بیا د دې لپاره وي چې وګوري مسلکي معیارونه پوره شوي که نه.

### د شالید کتلو کې زه کوم انتخاب لرم؟

- کله چې د شالید کتل کېږي، د قانون له مخې باید د ټولو کاندیدانو لپاره یو ډول معلومات وپلټل شي.
- د شالید کتلو لپاره باید تل ستاسو رضایت وغوښتل شي، که رضایت ونه ښیئ ښایي دا دنده در نه کړل شي.

### د سازمانونو او کاروبارونو لپاره قوانین څه دي؟

- قانون دا سخت کنټرول کړي چې سازمانونه له تاسو کومې پوښتنې کولی شي او کومې نه یا دا چې له ځوابونو سره څه وکړي. د ګومارنې لپاره د شالید کتلو معلومات له نورو ادارو، لکه کورنیو چارو وزارت سره نه شریکېږي.
- سازمانونه باید ستاسو له غوښتنې وړاندې دا روښانه کړي چې د شالید کوم ډول چک کوي. دوی باید همداراز داسې کس وړاندې کړي چې تاسو خبرې ورسره وکړئ او د پروسې په اړه پوښتنې وکړئ.
- د شالید کتل معمولاً هغه وخت کېږي چې کله تاسو یوې دندې ته بریالي شئ.
- سازمانونه باید د شالید کتلو لګښت پرې کړي. که يې په لګښت کې ستونزه لرئ، له یوه مهم کارکوونکي یا د دندې د مرکز له سلاکار سره چې ښايي مرسته وکړی شي، مرسته وغواړي.

## ستاسو د هویت تایید

کله چې هېواد ته نوی راځئ یا د پناه غوښتنې سیستم کې یاست، د هویت تایید مو ممکن سخت وي. بیا هم ځینې لارې شته چې تاسو په اسانۍ خپل هویت تاییدولی شئ.

- ځینې اسناد د افشا او استثنا خدمتونو (Disclosure and Barring Services) له تایید شوي لیست څخه واخلئ
- که ممکنه وه د بېلونو او رسمي لیکونو غوښتنه وکړئ چې تاسو ته ستاسو په بشپړ نوم لېږل شوي او ډاډ ترلاسه کړئ چې سم لیکل شوي. په اسنادو کې مو تېروتنې ژر تر ژره اصلاح کړئ.
- که له وړاندې د کډوالۍ حالت لرئ او تمویلولی یې شئ یا مو یو مهم کارکوونکی تمویلولی شي، د موټر چلولو موقتي جواز لپاره نوملیکنه وکړئ.

## تصدیق پاڼې، ورتیاوې او زده کړې

که زده کړې لرئ، وګورئ چې څنګه یې کتلی او با اعتباره کولی شئ. وګورئ چې د هغو زده کړو او تجربې معادل ته په انګلستان کې څه وایي او خلک یې په اړه څنګه خبري کوي. دا مرسته درسره کوي چې ښه درک شئ.

که یو سازمان ستاسو زده کړې نه شي تاییدولی، ښایي د هغه هېواد سفارت مرسته درسره وکړی شي چې تاسو زده کړې پکې کړې. د خپل هېواد مسلکي سازمانونه هم په دې کې مرسته درسره کولی شي چې ستاسو زده کړې او معلومات تایید شي.

په انګلستان کې مسلکي سازمانونه هم ښایي وکولی شي له ګومارونکو سره مرسته وکړي چې ستاسو پر زده کړو او وړتیاوو ډاډمن شي.

## مسلکی سفارشات

له تاسو ښایي وغوښتل شي چې د داسي کسانو نومونه او د اړیکو جزیات وړاندي کړئ چې په تاسو پوري اړه نه لري، له مسلکی او شخصی اړخه تاسو ځو کاله دغه کس یا کسان پېژني. سازمان به له هغو کسانو سره اړیکه ونیسي او تري وبه غواړي چې د دغې دندې لپاره ستاسو د وړوالي یا مناسبوالي په اړه یو څه ووایي.

دا د هغو خلکو لپاره عامه ده چې هېواد ته نوي راغلي، دوی د مرجع په پیدا کولو کې له ستونزو سره مخ کېږي.

- که له یوه مهم کارکوونکي سره له نیږدې کار کوئ، یا که ماشومان لرئ او کارکوونکي او د دوی ښوونځي تاسو پېژني، ښایي وکولی شي ستاسو د شخصیت په اړه یوه مرجع ورکړي.
- که مرجع نه شئ وړاندې کولی، د ګومارنې له مدیر سره خبرې وکړئ. ښایي داسي دندې وي چې دوی پکې انعطاف منونکي وي او دې ته اړتیا نه شي. دوی ښایي اړتیا ولري چې له یوه متخصص څخه مشوره وغواړي.
- که مرجع نه لرئ، د داسي دندې په اړه فکر وکړئ چې مرجع ته اړتیا ونه لري؛ په دې توګه مو خلک پېژني او په راتلونکي کې مو مرجع کېدی شي.
- دا هم مرسته کولی شي چې که له هغو کسانو سره وینئ چې په راتلونکي کې مرجع کېدی شي، نوم او د اړیکو جزیات یې له ځان سره وساتئ، سوابق او نیټې، دندې او هغه سازمانونه چې تاسو په انګلستان کې پکې رضاکار وئ، وساتئ.

## د جنایي سابقې کتل

که داسي دندو ته غوښتنه کوئ چې په هغو کې له زیان منونکو لویانو او ماشومانو سره د اړیکي بېلابېلې بڼې لرئ، یا حساسو معلوماتو ته لاسرسی لرلی شئ، لاندې کارونه ښایي وشي.

- ښایي د جرمي سابقې پوښتنه درنه وشي، که یې لرئ.
- درنه وبه غوښتل شي چې کله مو په دنده کې د کوم چلند په سبب لرې شوي یا تنبیه شوي یاست که نه.
- ښایي درنه وغوښتل شي چې د «افشا او استثنا خدمتونو» کتنې ته رضایت وښیئ – دې ته «DBS کتنه» یا د جنایي سوابقو کتنه هم وایي.

د افشا او استثنا خدمتونه په انګلستان کې یو رسمي سازمان دی چې جنایي سوابقو ته لاسرسی لري او داسي تاییدي وړاندې کوي چې ګومارونکو ته د دغو خلکو سوابق ښیي. د DBS کتنې بېلابېلې کچې دي، نو یوازې هغه معلومات وړاندې کېږي چې دغې دندې ته په کتو مناسب وي.

که جنايي سابقه هم ولرئ، دنده يا رضاکاري کولی شئ؛ خو ځينې دندې نه درکول کېږي. دا مهمه ده چې د غوښتنې په صورت کې ځينې هغه سوابق ورته افشا کړئ چې قانوني اړتيا ده. په دې اړه قوانين شته چې د څه شي غوښتنه کېدای شي او تاسو څه شی شریکولی شئ. که شک لرئ، لارښود وګورئ.

که د قاچاقي راتګ يا د پناه غوښتنې اړوند مسايلو له امله مجرم پېژندل شوي ياست، له وکيل، مشاور او باوري کارکوونکي سره کار وکړئ چې د ګومارنې پر وخت په دې اړه څه وايي.

د پروسې يوې برخې په توګه له تاسو غوښتل کېږي چې له [هغو اسنادو چې د افشا او استثنا خدمتونه يې د هويت د رسمي اسنادو په توګه پېژني] څخه په استفادې خپل هويت تاييد کړئ.

ښايي ډېر کسان د اسنادو په کارونو کې له ستونزو سره مخ شي، دا د دوی ستونزه ده. که اړين اسناد نه شئ وړاندې کولی، بيا هم له پوليسو سره د خپل د ګوتې نښې په ثبتولو سره DBS کتنه ترلاسه کولی شئ.

- له 16 کالو پورته عمر لرونکی هر څوک DBS کتنه ترلاسه کولی شي، د کډوالۍ حالت مو که هر څه وي، او که مو په هېواد کې هر څومره وخت تېر کړی وي.
- د یوه کس شالید ته له کتنې پرته، که غوښتنليک سم وي، معمولاً شاوخوا دوې اونۍ نيسي چې کتنه وشي.
- داسې رضاکاري کول چې د کتنې اړتياوې يې ستاسو د راتلونکې دندې په کچه وي، مرسته کوي چې تجربه او مرجع واخلئ او دا په دې معنی ده چې د غوښتنې پر وخت DBS کتنه لرئ.
- که مو د DBS کتنې غوښتنه کړې وي، له DBS [اپډېټ خدمتونو] سره راجستر کېدی شئ چې DBS تصديق پاڼه مو اپډېټ وساتي. دا په دې معنی ده چې راتلونکي ګمارونکي يا د رضاکارو مديران د نوې کتنې له کولو پرته ستاسو تصديق پاڼه کتلی شي. د اپډېټ لپاره پر رضاکار لګښت نه راځي.
- له افشا او استثنا خدمتونو څخه دا [د بهرنيو غوښتنليکونو لارښود] له تاسو او هغه سازمان سره مرسته کوي چې تاسو ورسره یو ځای کېږئ. د نورو معلوماتو لپاره د DBS کتنو په اړه زموږ د معلوماتو پاڼه وګورئ.

## نړيوالې کتنې

د ځينو دندو لپاره (لکه د ښوونکي او نرس) یو سازمان ښايي پر دې پوهېدو ته اړتيا ولري چې په بهر کې مو کومه جرمي سابقه لرله که نه. د بېلابېلو هېوادونو لپاره بېلابېل تنظيمات دي. [په دې اړه معلومات چې څنګه د انګلستان دولت له لوري د بېلابېلو هېوادونو لپاره د «ښه شخصيت» تصديق پاڼه واخلئ.]

که ګمارونکی د شالید کتنه نه شي کولی، له دوی څخه تمه کېږي چې په دې اړه له پرېکړې کولو وړاندې چې کس وګوماري که نه، تر خپله وسه د مرجع په فورم کې معلومات راټول کړي.

که ادارو ته په بل هېواد کې ستاسو د اوسېدو د ځای په اړه معلومات رسېدل ګواښ درته متوجه کوي، په سازمان کې له بشري سرچينو (HR) سره خبرې کولی شئ چې قانوني مشوره درکړي.

### د ستونزې حلول

د خوندي کار کولو تر څنګ سازمانونه غواړي بېلابېل شالید لرونکي کسان وګوماري. که ستونزې او بالقوه حلالرې په ګوته شوې، ستونزې معمولاً حل کېږي.

## وخت

تاسو بايد پوښتنه وکړئ او وګورئ چې د چيک يا کتنې د ډېر وخت نيولو په سبب کوم فرصت له لاسه ور نه کړئ، او آيا تاسې کولی شئ چې د چيک يا کتنې له بشپړېدو وړاندې دنده يا روزنه پيل کړئ.

که مو يو فرصت له لاسه ورکړ او د DBS کتنې غوښتنه مو وکړه، بيا هم تصديق پاڼه ترلاسه کوئ او دا مرسته درسره کوي چې بله دنده په اسانۍ واخلئ.

## باور او تطابق

د شالید په ډېرو کتنو کې داسې معلومات، اسناد یا د اړیکو جزیات غوښتل کېږي چې شاید له تاسو سره نه وي یا په داسې پروسو کې برخه اخلئ چې ښايي پرې پوه نه شئ او ورخطا شئ.

- دا ښه ده چې په دې اړه نور معلومات ترلاسه کړئ چې څه درنه غوښتل شوي او له رضایت ښودلو وړاندې د کتنو پاڼې وګورئ.
- ځان ډاډه کړئ چې تاسو پر هغه څه پوهېږئ چې د شالید کتنو کې پوښتل کېږي. ډېرې کلیمې تخنیکي معناوې لري چې له اصلي معنی سره توپیر کوي او د پوهېدو لپاره یې کوم دلیل نه لرئ.
- که له کومې دندې سره لېوالتیا لرئ چې د شالید کتنه مو ورسره سم نه دی، د دې ارزښت لري چې له ګومارونکي مدیر یا HR مدیر سره خبرې وکړئ او پر وخت د یوه متخصص مشوره واخلئ.

ډېری سازمانونه ښايي هغه ځانګړي ستونزې درک نه شي کړی چې پناه غوښتونکي د شالید کتنې په پروسه کې ورسره مخ دي او ښايي له هغو بېلابېلو لارو هم نه وي خبر چې دا ستونزې حلېدی شي. تل یوه بدیله لاره وي چې پرې لاړ شو.

## رسمي ژباړه

که د ارزوني کوم اسناد ژباړې ته اړتیا ولري، د هغ هېواد سفارت چې دا معلومات ورکوي ښايي مرسته وکړی شي. خو که د دې کار غوښتنه ستاسو لپاره خوندي کار وي او ستونزه نه جوړوي.

## ټکنالوژي او لاسرسی

ګومارونکي باید وکولی شي د چک د یوې برخې په توګه تاسو ته هوسا فضا او اړین تجهیزات درکړي او د کتنې لګښتونه وګالي. د دندو مرکزونه، کتابتونونه او د ټولنې مرکزونه ښايي کمپیوټر او انټرنېټ ته لاسرسی درکړی شي تر څو له تاسو سره مرسته وکړي چې د کتنو پروسه اسانه مخته یوسئ.

## صدمه او سلامتیا

تاسو ته د شالید کتنې ښايي یو شخصي پوښتنې په ځیر ښکاري ، او د پوښتنو پر وخت مو ترخې خاطرې او احساسات راپورته کړي چې تاسو ته یې په یاد راوړل سخت وي.

په دې اړه فکر وکړئ چې په دغې پروسې کې د روغ او ښه پاتې کېدو لپاره څه مرسته کولی شي. مثلاً دا چې یو کس درسره راولئ یا دا پروسه په یوه ځانګړي ځای کې ترسره شي.

که غواړي د خپلې سابقې په اړه کوم شخصي مورد یا د دغې پروسې پر وخت راپورته شوې ستونزه شریکه کړئ، دا مرسته کوي چې خبرې مو پلان کړئ چې څنګه به وایئ او څه به وایئ.

د هغو دندو ټاکل چې منظم ګومارل یا د بدلېدو فرصتونه لري، د کتنې د وخت نیولو پر وخت فشار او د فرصت له لاسه ورکول ګواښ کموي او یا دا که بل ځای ته کډه کوئ، اندېښنه به نه لرئ.

که د چک له تسهیلوونکو کسانو سره بده تجربه لرئ او غبرګون ورکول خوندي کار درته ښکاري، دا د ستونزو په حل کې مرسته کوي او تاسو ته دا فرصت درکوي چې پر خلکو او پروسه بیا باور ترلاسه کړئ. همداشان، که مثبته تجربه لرئ، دا له خلکو سره مرسته کوي چې پوه شي چې کوم کار یې ښه دی.

د معلوماتو دا پاڼه د یورکشایر کډوالو اداري (Migration Yorkshire) د 2022 کال په ډسمبر کې لیکلې. که کومه پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ. موږ به له تاسو سره د مرستې لپاره خپله ټوله هڅه وکړو:
admin@migrationyorkshire.org.uk یا 0113 378 8188.